غلام حضرت روغمن

دماشوم گلونه

« د شعرونو مجموعه »

غلام حضرت روغمن

PROPERTY OF ACKU
2810

۱۳۶۷

دکتاب نوم : دماشوم گلونه

شاعر : غلام حضرت روغمن

انځورگر : حفیظ الله منیر

ناشر : دافغانستان دلیکوالو انجمن

نمره : ۱۷۷

تیراژ : ۲۰۰۰ ټوک

کال : ۱۳۶۷

دچاپ ځای : دولتی مطبعه

فهرست

شمیر عنوان	مخ
۱ـ گرانو گرانو ماشومانو	۱
۲ـ دوطن مینه	۲
۳ـ روغتیا	٤
٤ـ عسکر	٦
٥ـ دشاتو مچمچی	۸
٦ـ توتکی	۱۰
۷ـ زانی	۱۲
۸ـ ژوی	۱٤
۹ـ دښمنی	۱٦
۱۰ـ بزگر	۱۸
۱۱ـ ډوډی	۲۰
۱۲ـ شتمنی	۲۲
۱۳ـ لمر	۲٤
۱٤ـ سپوږمی خاندی	۲٦
۱٥ـ باران	۲۸
۱٦ـ خدای پامان	۳۰
۱۷ـ ترافیك	۳۲
۱۸ـ انقلاب	۳٤
۱۹ـ پسرلی	۳٦
۲۰ـ ځانځانی	٤۰

زما نوم غلام‌حضرت او تخلص‌می «روغمن» دی . پلار می فقیر محمد او نیکه می حا جی عبدالـــها دی نومیږی . په ۱۳۱۳ هـ ش کال کی دننگر هار کی دکوز کونړ ولسوالی دشگی په یا سین کلی کی دی نړی ته راغلی یم .

لومړنی زده کړه می دافغا ن سید جمال الدین په ښوونځی کی سر ته ورسو له او په ۱۳۳۴ هـ ش کال کی دافغا ن سید جمال الدین دار المعلمین ددو لسم ټو لګی‌څخه په دوهمه درجه فارغ التحصیـــل شوم او دښوونکی دنده می د سیدجمـــال الدین افغان او د ننگرهار پـــه دارالمعلمین کـــی سر تــه‌ورسوله ا و لـــه اته کاله معلمی نه وروسته دننگر هار و لایت کی‌پلټونکی او ور پسی دښوونی او روزنی د لویو مدیریتو نو دمرستیال‌او لوی مدیر په صفت می دندی‌اجرا کړی دی . د ۱۳۵۷ کال را په دی‌دتالیف او تر جمی ریاست کـــی د ښوونی او روزنی و زار ت‌ددرسی کتابونو په لیکلو، نقد او اصلاح کی د مولف او اد یټور پـــه‌صفت دخدمت افتخار لرم .

چاپ شوی آثار: دلومړی ټولګی نه تر خلورم ټولګی پوری د پښتو لوست او ژ بی د تدریس لپا ره د ښوونګی لار ښود .

۲ـ ددویم ټولګی لـــو ســت کتاب .

۳ـ ددریم ټولګی د لــو ســـت کتاب .

٤ـ داووم ټو لګی لپاره پښتو نحو .

٥ـ «ننګی هیلی» درسی مر ستندوی کتاب (د څو تنو شاعرانو تعلیمی او تربیوی شعرونه دنژ نـــدصاحب په کهون)

ناچاپ.

۱ـ تږی والی سولی ته (لویه‌لار)

۲ـ دیوهنی غـږونه

۳ـ زموږ تګ لور

بسم الله الرحمن الرحيم

گرانو گرانو ماشومانو!

په گلشن کې بلبلانو!

رنگ و بوی یې چغار غواړي

هر پاڼه د گلانو

د وطن مينه

افغانستان هيواده !
له ځانه ګران هيواده !

ستا ددښتي غرونه ښکلي !
باغ او بوستان هيواده !

پت او ايمان مي ته‌يي !
جنت‌نښان هيواده !

دغير تونو کوره !
لوړ په جهان هيواده !

مال او سر تا ځني جار ستاله حيا ځني جار



روغتیا

رما روغتیا خوښه‌ده
تازه هواخوښه ده

لوبی مستی کو مه
زما ښکلا خو ښه ده

ځکه ځان پاك ساتمه   حددخوراك ساتمه

ځان له مچا نو سا تم
ځان له بدانو سا تم

مچ مکروبو نه راوړی
ځان له تکانو سا تم

ځکه خو شحا له یـــمه   خلاص له جنجا له یمه



عسکر

پلاره ! عسکری ته ځم

خپلی نو کری ته ځم

ساتم خپلو اکی خپلـــه
ځمه سر بازی ته ځم

خپل او پردی پیژنم
دی برابری ته ځم

ساتم سر لوړی خپله   هروخت وروروِ لی خپله

دشاتومچمچی

دشاتو مچمچی

داروده ستا الگی

خوږه ده ستا گوډی

ښایسته دی کورنی

ټولنه دی کمکی

کارگره ښایستگی

یو والی کی خوا ږه بیلوالی کی ترخه



ټوټکــي

« واه واټونکی راغله »

د«وه تاره لکی راغله»

وایې پسر لی را غی

داپه څټکی راغله

وایې په خبر وکــي

وایې په سندروکـــي

نښته بیکار ی نوره

بنډخو او په نرو کـــي



زانـــی

دزا ښو کتار ونه

دزا ښو آواز ونه

مزه کوی هواکـــی

دزا ښو مز لـــونه

اوږدی نری پښی یی

اوږده یی وز رونه

دزاښو اتفاق کـــی

پندو نه دی پندو نه

راځی تود و ملکونه

سیلونه او سیلو نــه



-۱۳-

صوفي حبیب‌الله

ژوی

خره د ی که‌او ښان زمونږ

بار وړی په ښه شان زمونږ

گټی رنگا ر نگ لـــری ٧

مېږی او او ښان زمو نږ

میښی او وزی لرو

ښکلی دی اسان زمو نږ

دا مودهیواد ژوی

ښکلی پری جهان زمو نږ

ډیر دی گټور ژوی ښکلی‌ښکر ور ژوی



دښمنـی

موږك پيشو نه تښتی

سپی له ځمرونه تښتی

ځمری سړ ونه تښتی

دا دښمنی بده ده　　دابدبينی بده ده

دوستی

راستی دوستی ښينگوی　　راستی خپلوی ښينگوی

راستی رښتيا وايه تل　　راستی وروری ښينگو ی



بزگر

ځمکه وتره په او بو کا

بیایی یوی په غویوکا

تخم وشیندی پتی کی

بیا ماله یی په‌ور و وروکا

خوك كر کیله په ماشین کا   دچاز رونه غوایی شین کا

ډوډۍ

غنم چې شنه شي

لوی شي پاخه شي

لو پسې وړه شي

بیا وړه لامده شي

خمیر ه بنه شي

په تنا ره شـــي

ډوډۍ خواړه شــي

خلك پرې ماړه شي

کار لره جوړ شي　　وږيچې موړ شي .



شتمنی

ځنګلونه د هیواد

دښتی غرونه دهیواد

ډک له سپینواو سروز رو

ټول کانونه دهیواد

، دژوند ون له زوره ډک

مست سیند ونه د هیواد

ډک له پته سر لوړ یو

تاریخو نه د هیواد

سمه لار غواړی هیواد پوهه‌کار غواړی هیواد

-۳۰-

PROPERTY OF ACKU
2810

لمـــر

لمر راو خاته په غرو نو

دنښتر وپه سر و نو

لمر چې هر چا کره لاړشي

پاك‌شي‌کور له مکرو بونو

ښایسته لمره‌گټورمـ لوړنظره‌منوره

لمرزمونږ هشنه آسمان کی

لمر په گران افغا نستان‌کی

ښایسته تو د ډیر گټور هم

داسې نه دی ټول جهان کی

شین آسمان ځلا نده لمر دی افغانی ښایسته منظردی



سپوږمۍ خاندي

سپوږمۍ خاندي په فضا

فضا ونیوه بریښنا

تو غندي که را گټـونه

بې پروا ځي په گـــډا

موټرونه ځي په ځمـــکه

الو تکه پــــه هـــوا

ښه لامبو وهي کښتۍ

په او بو کې هره خـــوا

سو کالي او آبادي ته خپلواکۍ او سر لوړي ته.

باران

بارانه ښه و ریږه

زما په زړه ور یږه

ګلونه سمه غر کړه

په سمه غره وریږه

باران هوا پاك وی

باران فضا پاك وی

دوړی ګرد و نه پاك شی

باران دنیا پاكوی

خدای پامان

ابی باباته سلام !

کاکا ماما ته سلام !

لالا هرچا ته سلام !

سلام سلام زما ډیر احترام زما

لاهم مکتب لره

علم و ادب لره

مکتب دعلم ځای دی

هر یو نسب لره

معلم حقدار زما لکه دپلار زما



ترافيك

سره رنګ کی دریږمه
ژیړ رنګ کی خبر یږمه

پام کومه لارو کی
شنه رنګ کی تیریږمه

دا دترافیك هیله　　هرچانه‌ده تیك هیله

سم ځمه په لار کی
پام کومه کار کی

ښی لاس ته په مخه ځم
خپل وطن او ښار کی

سمه لاره لنډه وی　　ښه‌ده‌چی بی خنډه وی



انقلاب

انقلاب یا او ښتون

انقلاب کی وی بد لون

انقلاب راولی خلـک

چی‌پری ښه کاندی ژوندون

انقلاب چی بز یالی شی

هری خوانه شنی سمو ن

انقلاب له مونږه غواړ ی

دزیار کښو پیو ستون

گران وطن افغا نستان

آباد غواړی افغا نان


گران هیواد
افغانستان
آباد دې وي
تل دې وي
صلح

پــرلی

تازه هیواد ه
شنه هره خوا ده

غوټۍ غوړیږی
دگل خندا ده

مرغان چغیږی
رڼا رڼا ده

پاڼی رپیـــږی
وږمه پیدا ده

شر شره مسته
مسته گــډا ده

زړه هو سیـږی
دژوند دنیا ده

دا پسرلی دی ښه گلالی دی

پاکی

پاك ساتم لاسونه‌می
پاك ساتم غاښونه می

پاکی جامی اغوندم
پاك ساتم بوټونه می

پاك‌خ واړه اوبه غواړم
پاك ساتم څایونه می

پاك مرغان ښنا يسته ښکاری
پاك ساتم ما لونه می

پاك ژوند کی خو شحال‌یمه
پاك دی ټول کارونه می

ښکلی په پاکی یمه   گل دکورنی یمه



ځا نځانی

دوه‌مرغۍ می ولیدلی
پخپل منځ کی چغیدلی
چغ‌وپغ یی سره تود شو
یوله بله نږدی شولی

اخر دواړو جنګ شروع کړ
پښی پنجی یی لګوی
کوله لکه پنډ و سکه
پاس په ځمکه‌ولو یدلی

پیشو غلی هلته ناسته
دواړه یی‌غبر ګی ونیولی
غلیم دواړه ځانځانۍ کی
په مزه مزه خوړ لی

دپیشو ګیډه کی دواړه
یوله بله پخلا شو لی
سپیلا نیانو چی سیل وکړ
سم دلاسه والو تلی

ځانځانی دځان بلاده داخبره ما منلی .

PROPERTY OF ACKU
2810



دافغانستان دلیکوالو انجمن
۱۷۷

۳۰۶

دولتی مطبعه